آخري قسط

# سمندر خان سمندر

ليک : باقي صديقي		ژباړه : طاهر بونيرے

اتفاقي خبره وه چې په دغه ورځ مونږ غر ته ونۀ ختلو. په دويمه ورځ چې کله د دې مهم اغاز وشو. نو ميا ګل صاحب مخکښې ؤ او زۀ ورپسې روان وم. مونږ دواړه پوره په منډه غر ته ختلو. او وروستو راپسې نور خلق را روان وو. په دې کشمکش کښې څو ځله داسې هم وشو چې زما سر به د هغۀ په پښو اولګېدو. د غرۀ څوکه لا ډېره لرې وه چې ميا ګل ستړے شو او کښېناستو او د څه ساعت دمه کېدو نه پس واپس په ښکته را روان شو. وروستو د هغه د ملازمانو نه معلومه شوه چې مونږ نن په وړومبي ځل وليدل چې مياګل غر ته په ختلو ستړے شو او کښېناستو. له دې نه معلومېږي چې هغه نن د خپل رفتار نه هم ډېر تېز ختلو چې ما وروستو پاتې کړي. خو داسې ئې ونه کړے شو.

غرونو ته ختل د هغه د خوښې مشغله ده. چې کله به هم چا وئيل چې فلانے غر ډېر ګران دے. نو په دويمه ورځ به سمندر خان د دغه غر په سر ولاړ ؤ. يوه ورځ په دې شوق کښې هغه د يو سړي په وينا د ماښام په وخت يو غر ته روان شو. د هغه خيال ؤ چې د نمر پريوتو نه وړومبے به واپس ښکته راکوز شم خو چې د غر څوکې ته تر څو رسېدو نو نمر پريوتو. په واپسۍ کښې د هغه نه لاره هم خطا شوه. او په غنو جاړو کښې ونښتو. هغه په ناسته د جاړو نه د وتلو کوشش کولو خو کامياب نه شو. د هغه وجود له غنو نه ډک شوے ؤ جامې ئې شلېدلې وې چې په کومه مخه به تللو نو غنو به ئې لاره نيوله. سمندر خان وئيل چې زۀ په ژوند کښې په وړومبي ځل دلته ويريدلے وم. ځکه چې يګان همېشه په داسې جاړو بوټو کښې اوسېږي. هغه چې تر ناوخته پورې واپس رانغے نو والي سوات مياګل جهانزيب يو څو سپاهيان د هغه په لټون پسې ولېږل. هغوي په لاسونو کښې لالټېنونه نيولي وو او اوازونه به ئې کول. په غر کښې د ډېرو ګرځېدو او کړېدو نه پس ئې هغه اومونډلو. د رياست سوات په يو مشهور غر ,,ايلم,, باندې سمندر خان يو نظم هم ليکلے دے. چې په کتابي صورت کښې چاپ دے.

سمندر خان په زلميتوب کښې د فټ بال يو ښه لوبغاړے هم ؤ. اوس چې هم چرته ماشومان

په دغسې لوبو اوينې نو د هغه زړۀ وړپسې لکه د فټ بال په ټوپونو سر شي. د هغه سره خپلې د ۱۹۲۴د دور هغه جُرابې اوس هم شته چې د لوبو په وخت به ئې په پښو کښې اچولې. د سمندر خان د خپلو څيزونو سره ډېره مينه ده. د هغه سره اوس هم د مختلفو وختونو د استعمال څيزونه د يادګار په توګه محفوظ پراتۀ دي. د هغه سره خپل د کالج د وخت يو ښائسته ګلاس دے چې ډېر پۀ حفاظت سره ئې په الماره کښې خوندي کړے دے. او چرته خال خال ئې په استعمال کښې راولي. دا ګلاس د کال ۱۹۲۱ راهسې د هغۀ سره محفوظ دے. او دومره ډېره مينه ئې ده ورسره چې په نوکر ئې بهروسه نه وي په خپله ئې وينځي.

سمندر خان د وړوکوالي نه شاعري کوي. د هغه د خپلې شاعرۍ د مسؤدو سره بې حده ډېره مينه ده. يوه شپه په بدرشو کښې ناڅاپه طوفان راغے. پته نشته چې د اوبو سيلاب له کوم طرف نه راغلے ؤ چې د سترګو په رپ کښې د بدرشو کلي لارې او کوڅې له اوبو نه ډکې شوې. خلق د خپلو قيمتي سامانونو د بچ کولو په فکر کښې وو خو سمندر خان د کور والو د بيا بيا وينا باوجود هم د کور ټول سامان په ځائې پرېښودو د خپلو کتابونو بسته ئې په غاښونو کښې ونيوله. په يو لاس ئې خپله مور او په بل لاس ئې خپله ښځه له مټ نه ونيوله. او د سيلاب نه ئې رابهر کړې.

سمندر خان چې پېدل په لاره ځي نو د ځان سره شعرونه وائي. په څه وخت کښې زما هم دغه عادت ؤ په دې وجه مې د هغۀ دوه خبرې په زړۀ ډېرې خوږې ولګېدې. هغۀ وئيل چې يوه ورځ په سړک روان وم کاغذ او پنسل راسره وو چې کله راباندې د شعر آمد وشو. نو اوبه درېدم او په کاغذ به مې وليکلو. او بيا به روان شوم. زما فکر نۀ ؤ خو چرته يو سړے په ما پسې وروستو راروان ؤ څه شيبه پس هغه سړے زما خوا ته راغے او را ته ئې اووې چې خانه! څه چې ليکې نو په يو ځائې ئې وليکه. په لاره بيا بيا ودرېدو ته څۀ حاجت دے. د هغه دومره قدرې خبره څه وه چې شعرونه را نه هېر شو. ما هغه ته ډېر په غصه وکتل او هغه حېران دريان په لاره روان شو. خبر نۀ يم چې هغه به زما متعلق څه سوچ کولو...؟ ځکه چې په تلو کښې ئې دوه درې ځله ما ته وروستو هم وکتل.

چې ما ور ته هم خپله دغسې يوه واقعه بيان کړه. نو ما ته ئې وئيل چې تۀ زما ګټه نه شې کولې. ما يو ځلې څه داسې ټوقه کړې وه چې اوس ئې هم ياده کړم نو خندا راشي. هغه وئيل چې زۀ وخت لۀ سره د ګرځېدو عادت يم. د ځوانۍ په شپو کښې به چې کله په خپل کلي ,,بدرشو،، کښې وم نو روزانه به د مازيګر په وخت چاپېره نژدې غرونو ته ختلم. زما د قدرتي منظرونو سره د لېونتوب تر حده مينه ده. خصوصاً غرونه او د

شپې د سپوږمۍ رڼا مې ډېره خوښه وي. ما اکثر نظمونه په قدرتي منظرونو ليکلي دي. چې زۀ ئې د خپلې شاعرۍ مغز ګڼم. په سيل د تللو نه اول به ما کاغذ او پنسل په اختياط سره په ټوپۍ کښې کېښودل. خو يوه ورځ رانه هېر شو. قدرتي خبره وه چې غر ته اورسېدم نو د يوې قطعې آمد رابانديې وشو. کاغذ او پنسل نه ؤ ځکه نو لۀ دې ويرې چې چرته قطعه را نه هېره نۀ شي. ما د يوې ګټې په تېره ټکړه په بله ګټه هغه قطعه وليکله. او بيا مې دغه ګټه په سر کېښوده او کور ته مې راوړه.

هغه د ګرځېدو شوق اوس هم کوي خو اوس د هغه ګرځېدل د صدر نه تر ښار پورې محدود دي. هغه روزانه ښار ته پېدل ځي. او څۀ وخت په ,,اداره اشاعت سرحد،، کښې د خپل يو دوست (عبدالخالق خليق) سره ناسته کوي. او د ماښام د مونځ نه پس بيا واپس خپل ځائې ته راځي. چې په کومه ورځ باران وي او هغه چرته تلے راتلے نه شي نو په برانډه کښې ګرځي راګرځي يا بيا په پوړو باندې خېژي او کوزېږي.

د سمندر خان د ژوند هر اړخ ساده او د تکلف نه پاک دے. هغه صفا سوتره جامې اغوندي. سپين زړے خو دومره ډېر دے چې يو ځل د پښتو غزل په لړ کښې خبره روانه وه. نو وئيل ئې ګو چې زۀ غزل هم ليکم. خو په اصل کښې زۀ نظم ګو شاعر يم. امير حمزه خان شينوارے زما نه ښه غزل ليکي. زۀ د هغه په شان غزل نه شم ليکلے. د نن ورځې شاعران به دا خبره اونه کړي. ما خو داسې شاعران هم ليدلي دي څوک چې مير تقي مير هم په خيال کښې نۀ راولي.

سمندر خان ډېر د ساده طبيعت څښتن دے. خوراک هم ساده کوي. ګاځرې او ګنډېرۍ د هغه ډېرې خوښې وي. ګاځرې د غوښې سره پخوي. چائے صرف سحر مال څښي. او هغه په خپله وائي چې ښه په مړه خېټه ئې څښم. ناشته د پيروي سره کوي. پۀ په دې وجه نۀ څښي چې هغه وائي چې دا د ماشومانو خوراک دے. سمندر خان د ضرورت نه بغير هيڅ شے نۀ اخلي. په دې وجه هغه د ډېرو بېکاره څيزونو نه ځان بچ ساتلے دے. تر دې پورې چې په ريډيو کښې د ملازمت کولو باوجود هم د هغۀ سره ريډيو نشته. خپل ټول کار په خپله کوي. په نوکر صرف ډوډۍ پخوي. يو ځل ئې طبيعت ښه نۀ ؤ او نوکر هم په چهټۍ ؤ زۀ چې ورغلم نو هغه ټوسونه سرۀ کول. ما ته ئې زما د ډېر منت نه پس د دې خدمت موقعه په لاس راکړه.

په يوه زمانه کښې د هغه داسې عادت جوړ شوے ؤ چې د کټ د څادر څلور واړه پيلځکي به ئې يو شان نۀ وي غوړېدلي نو هغه له به خوب

نــه ورتلو. هغه به لګيا ؤ په ګڼنتو ګڼنتو به ئې د خپـل کټ دپاسه څادر سمولو. ښکاره خبره ده چې دغــه د نــوکــر د وس کــار نۀ ؤ. هــغه ګلوډ څيزونه ښـخي نه خوښوي. د هغه هر څه په يو ترتيب سره پـراتــه وي. کــوم لــوښـے چې د کوم ځائې نه اوچت کړي. نــو واپـــس ئې هــم پــه هاغه ځائې ږدي. او د نورو نه هم داسې کار غواړي. هغه چې په کوم کار نيـت وکړي نـو بيــا تــرې په شا کېږي ښـخي نه. د هغه نقصان په کښې ولې نه وي.

يــو ځل د هغه يو څو غاښونه دردمند شوي وو د خپلو ټولو غاښونو د ويستو فېصله ئې وکړه او هله په قلاره شو چې د ډاکټر د منع کولو باوجود ئې د خپـلـو ټـولـو غـاښونو نـه ځـان دمـه کړو. د غــاښـونــو ويستــلـو نه پس د خوراک مقصد صرف خـېـټـه ډکـول وي. ځـکــه نــو اوس چې هــغه په څه طريقه خوراک کولے شي کوي ئې.

يــوه ورځ را تــه ســمندر خان وئيل چې تۀ زمــا حــرکتونو ته ډېر په غور سره ګوره. ځکه چې تۀ بــه هــم يــو ځـل لۀ دې منزل نه تېرېږې ما ور ته ووئيـــل چې د دې مـــنـزل ابتــدا خــو شوې ده خو زۀ ستاسو په شان د ارادې پوخ نۀ يم. زما پۀ دې خبره پورې ئې ښه ډېر وخندل.

ســمـــنــدر خان ډېر خود دار شخصيت دے. هــغـــه نۀ غــواړي چې د چـــا پـــه وړانـدې د خپـلو تــکـلـيـفــونــو ذکر وکړي. پــه څــه ورځو کښې پــه پېښور کښې د اوړو قات راغلے ؤ. کله چې ما ته د هغه د نوکر نه معلومه شوه نو ما پۀ څه ذريعه اوړۀ راوړل او د هــغــه نــوکــر ته مې ورکړل. هغه په دې خـوشحاله ډېر شو خو زړۀ ئې هله په قلاره شو چې مــا ته ئې د اوړو قيمت راکړو. دغسې يوه ورځ ور له ما مالټې يوړې نو را ته ئې ووئيل چې بيا دپاره دا چل مه کوه. زۀ ستا خدمت بغېر د کومې طمعې نــه کــوم. د سمندر خان غصه هم ډېره مشهوره ده. اول خــو زما يقين نه کېدو خو د فاني صاحب خبره چې :

نبض کائنات ڈوبتی نظر آئی تو محقاط ہوگیا

زۀ د سمندر خان د فن په باره کښې څه نشم ليکلے ځـکـــه چې زمـــا د پښتو د زده کړې کړې ډېرې زر وشـلېدې. په ۱۹۵۳کښې زۀ لــه مــلازمت نه لرې شــوم. او د خپــل ډېــر کــوشـــش باوجود په پېښور کښې پــاتې نـــه شــوم. پـــه هــر حال د هغــه کومې مسودې چې ما ليدلي دي نو په ډاډه زړۀ وئيلے شم چې په دې دور کښې به شايد چرته بل کوم شاعر د خپــل فن سره دومره خواري کړې وي. غالباً د هغه دوه کتــابـونــه چاپ دي. او نوره ټوله سرمايه ئې د چا قدر شناس په انتظار ده.

☆☆☆